احسان الله آرین زی ۲۵/۰۷/۲۰۱۰

# په هند کې د امريکا پخوانی سفير اپلتې وايي!

څو روځې مخکې په هند کې د امريکا د متحده ايالاتو پخوانی لوی سفير (رابرت بلکويل)د ( تايمز اف انديا) روځپاڼې سره په مرکه کې ويلي چې امريکا دې د افغانستان د دولت له وسله والو مخالفينو سره په جګړه کې، د ناکامۍ په صورت کې، دغه هېواد په دوو برخو ووېشي او خپلې ګټې دې د شمال په کراره سيمو کې خوندي کړي!

افغانستان د اسيا په زړه کې داسې يو غرنی هېواد دی چې له وياړه ډك پنځه زره کلن تاريخ او خورا باتور او غيرتي خلك لري. وايي يو وختې چې انګريزانو په چاريکارو کې چونۍ درلوده، د وخت مجاهدينو د دوی يو څه د توپ ګولۍ ولجه کړې وې. انګليسي ليکواله (ليډيسېل) ليکي چې دوی ځکه په کراره ويده کېدل چې ډاډ يې درلود هغه د توپ ګولۍ چې مجاهدينو اولجه کړې وې د هغه توپونو له خولو څخه لويې وې چې دوی درلودل؛ خو بله شپه دوی د همدې ګوليو په ډزو ژوبل ژور شول! د انګليسانو څېړنو دا ښودلې وه چې مجاهدينونېول شوې ګولۍ په ډېرو سولولې او دومره نرۍ کړې وې چې له خپلو توپونو څخه يې وولي!

د روسانو د يرغل په وخت کې د هېواد وتلی او تکړه شاعر عبدالباري جهاني ويلي و چې دا داسې ولس دی چې پخپلو سوکونو پردې ټانګونه ويلولی شي او همداسې هم وشول! په رښتيا دې خلکو سور پوځ د خپلو سرونو په نذرانه کولو مات کړ او د هېواد خپلواکي يې خوندي کړه. ويل کېږي چې د ګڼ تاريخ درلودل او په تاريخ کې د ګڼو وياړنو او اتلانو درلودل او ګڼه قرباني ورکول د ملتونو د جوړيدا يو بنسټيز لامل دی او د نورو لاملونو تر څنګ مضبوط ملت جوړولای شي. افغانان هم له نيکه مرغه تر ډېره حده ګڼ او وياړلی تاريخ لري او مطلق اکثريت يې په خپلو ملي وياړونو او اتلانو وياړي او د هغوی لاره پالي.

د انګريزانو او روسانو په ماتولو کې د افغانستان د خلکو ملي يووالي دا وښوده چې دا واحد ملت د ډېرو پرديو د ماتولو وس، اراده او ايمان لري. که څه هم چې انګريزانو په خپل وخت کې د خپلو نامقدسو اهدافو له پاره څو ځلې د افغانستان ځينې برخې ځنې بيلې کړې؛ خو د روسانو د يرغل په پای کې د هغوی شيطانی توطيه چې په شمال کې يې د يوه حکومت د جوړولو له پاره پيل کړې وه، له کلکې ناکامۍ سره مخامخ شوه او افغانستان يو موټی پاتې شو.

روسانو د افغانستان د وېش د پلان د تطبيق له پاره ځنې داسې څېرې په پام کې نېولې وې چې چمتو وې چې ټول افغانستان د يو بوتل(ودکا) له پاره وپلوري او اوس هم امريکا داسې کسان استخدام کړي چې د وسلو، پيسو، وسيلو او مقام له پاره په (هېواد)، (ملي خپلواکۍ) ، (د خاورې په تماميت) (سياسي واکمنۍ)، (ملي غرور)، (ملي وياړونو) او ډېرو نورو اسلامي او ملي وياړونو قمار وهلی شي او په ډېره اسانه يې بايللی شي!

روسانو کله چې ماته په افغانستان کې په رنو سترګو وليده؛ نو د افغانستان د وېش پلان يې جوړ کړ. داسې ښکاري چې اوس امريکايان هم له بدو روځو سره مخامخ دي، ايتلافي ياران يې يو په بل پسې له افغانستانه وتلو ته چمتووالی نيسي، اقتصادي بحران يې ملا ماته کړې د سر او مال زيان يې په افغانستان کې له حده وتلو ته نژدې شوی او نور د ډېرو پاتې کېدلو قوي اراده، کافي امکانات او بليونونه ډالره نه لري چې په افغانستان باندې يې د يو څو تحميلي ليډرانو د تپلو د دوام له پاره په کار واچوي او خپله اراده په داسې يو ولس عملي کړي چې هېڅ نه لري؛ خو د خپلواکۍ په ميو مست او له ژونده په شهادت خوشاله دي!

داسې ښکاري چې په هند کې د امريکې د پخواني سفير ښاغلي ( رابرت بلکويل) اپلتې تصادفي نه دي او د امريکا د مشرتابه کړيو د افکارو، احساساتو او پټو پلانونو ښکارندويي کوي. داسې ښکاري چې امريکا په روانه جګړه کې په خپله ماته باوري شوې او غواړي چې د روسانو په شان خپل وروستی ګذار وکړي او د افغانستان د وېش په ستره بيه له دې ځايه پښې سپکې کړي او ځان روغ رمټ وباسي!

اوس د افغانستان د خلکو او هېواد پاله سياسينو کار دی چې دې شيطاني توطې ته هوښيار واوسي او دا توطيه هم لکه د ببرك کارمل او روسانو د وخت دا په نطفه کې خنثی او د افغانستان ځمکنی سلامتيا وساتي. دا د ټولو تاريخ د دې حساسو شېبو نه ځنډېدونکې ا و ايماني دنده ده چې د پرديو د دسايسو او د هغوی د کورنيو مرستندويانو د غلامۍ مخه ډپ کړي او د تاريخ له دې خونړۍ او نه هيرېدونکې پړاو څخه په برياليتوب را ووځي.(رابرت بلکويل) به انشا الله د افغانستان د وېش ارمان خاورو ته ويسي! له دې بحراني پړاو څخه د افغانستان ژغورنه د ټولو افغانانو دنده ده. په دې کې ښځې او نارينه، تور او سپين ټول يو شانتې دنده لري چې د وېش استعماري پلان ته (نه) ووايي.


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ